# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com　　　www.afgazad.com

| اجتماعی | Social |
|---|---|


**مخکښ شهید**

لیکنه: لوچیاپن

ژباړه: فرهاد ویاړ

یو واقعي داستان

## مخکښ شهید



لیکنه:لوچیاپن　　　ژباړه:فرهاد ویاړ





لیوون – هسو په یوه بیوزله کورنۍ کې نړۍ ته راغی. د لیو پلار خیاط وو، خو د

آزادۍ څخه مخکې یې ژوند په یخنۍ، سختۍ او ولږې سره تیر کړ.



د کوچني ون- هسو د ژوندانه پیل له کړاو او رنځونو سره مل وو. یوه ورځ چې د ونګ د مالټو د بڼ له خوا تیریده، د بڼ مالک په هغه د غلا تور ولګو او ډیر زیات یې ووهو. زموږ دې ګران کوچني خپلې اوښکې پاکې کړې، خو هغه کرکه چې له ارباب څخه په زړه کې اخیستې وه، هیڅکله یې هیره نکړه.



د ون – هسو پلار يو صادقه سړی وو او له غريبۍ سره سره حاضر شوی نه وو چې مالک ته ترياک خرڅ کړي. د همدې لپاره بيرحمه ارباب او «د سولې ساتونکي لښکر» هغه زندان ته واچو.



د هسو مور، خپل زوي زندان ته بوتلو چې خپل پلار ووينې؛ هغه پلار چې له بدن څخه يوازې پوستکې او هډوکی پاتی وو. په داسې يو تولنې کې بيچاره ګانو چا ته کولاي شول خپل شکايت وکړي.



بالاخره غریبي دومره د دې کورنۍ وضعیت خراب کړ، چې د هسو مور مجبوره شوه د کار لپاره د ارباب کور ته لاړه شي. کله چې  به هسو تللو چې خپله مور هلته ووینې، د ارباب ښځې به هغه ته د ننوتلو اجازه نه ورکوله او خپل داړونکی سپې به یې هغه پسی ورکشی کو.